ترکیسي د مخه یادونه:

غوارم د دغې کیسه ګۍ په اړه، د هغې د لیکلو انګیزه له تاسو درنو لوستونکو سره شریکه کړم:
د ۲۰۰۳ کال سړې شپې ورځې وې چې زما د اردو ژبې یو شاعر دوست، کورته راغی او یو بلن لیک یې راکړ چې په هغه کې یې زه یوې وړې مشاعرې ته دعوت کړی وم چې د یوه د پیلومات چې پخوا په کابل کې د هند سفیرو د میرمنې له خوا جوړه شوې وه، ځای او ځایګی یې رامعلوم و، هلته ټول دوستان ما پیژندل، په برسرکې یو مامره سړی ناست و، د هغه په څنګ کې یې زه هم کینولم، روغبړ مو سروکړ، ما ځان ورپیژاند چې دلته په هند کې استادیم خو د افغانستان یم. ده راته وخندل او راته موسکی شو: دا څو کاله چې هندوستان ته راځم ستا په باره کې مې له یارانو ډیر څه اوریدلي دي، ښه وشو چې نن مو سره ولیدل، زه رښتیا هم حیران شوم چې د امامره او دروند سړی او له ماسره پښتو خبرې. خدای مې مل شو له خپلې حافظې مې لږ کار واخیست راپه یاد شو چې دا خو د اردو ژبې نامتو پښتون احمد فراز صاحب دی، رښتیا لږ احساساتي غوندې شوي وم، له سره مې غیږ ورکړه او پښتني مینه مو له یوه بله سره وکړه. محفل ته ډیر وخت پاتې و چې ما او ده اوږدې خبرې وکړې، په افغانستان کې ما د پښتو شعر او شاعرۍ په اړه خبرې ورته وکړې، څه نومونه مې ورته واخیستل چې یوازې له لایق، بینوا پرته له نورو سره نا اشنا و. په همدغو خبرو خبرو کې مو د کیسې په باره کې هم خبرې وکړې، ما په افغانستان او پښتونخوا کې د افسانه نګارو نومونه له پخوا ترننه ورته یاد کړل، خو دامې هم ورته وویل چې په پښتونخوا کې زموږ د اوسنۍ کیسې په برخه کې یوازې دوو تنو کیفي کارکړی چې یو یې ارواښاد مهدی پاچا او بل یې طاهر اثرافریدی دی، د اثر د نامه په اوریدو سره راته ځیرشو: د هغه کیسې مو هم لوستې دي؟ ما ویل هو لاره کې ماښام او نورې می یې لوستی. بیایې راته وویل چې څنګه کیسه لیکي، ما ځواب ورکړ چې: ځای یې تراوسه هم په پښتو او پښتنو کې څوک نه شي ډکولای ...
راته په خندا شو:
هغه په کراچۍ زموږ مشر دی، مهربانه دی او زه د زړه له کومې درناوی ورته لرم...
مشاعره مو سره واوریده او ده هم څو شعرونه په کې ولوستل چې تود هرکلی یې وشو.
په سبایې زه اجمیر ته روان وم، ده راته وویل چې:
رشید صاحب ګوره چې په کراچۍ کې هم دوه پښتانه ورونه لرې موږ ته هم د خواجه په دربار کی دعا وکړې ...
ما هلته دوه شپې وکړې، دوی ته مې دعاوې هم وکړې او بیامې دغه لیکنه د طاهر صاحب مهربانه نامه ته له دعا سره هلته ولیکله او ورته مې اهدا کړه، عمرېې زیات!

خالق رشید ۲۰۱۵/۰۷/۱۲

# یوه اوږده لار،

# یوه اوږده کیسه



ډالۍ: نومیالي پښتو افسانه نګار طاهر اثر افریدي ته!

زه نه پوهیږم چې زه به څوکلنه وم، نه پوهیږم چې زما پلار او مور څوک وو، د مور په باره کې خو ځکه څه نه شم ویلای چې کله زه په ښو او بدو وپوهیدم، د هغې په باب خو مې هیڅ هم وانه وریدل، یوازې د پلار په باره کې مې لایوڅه خبرې او کیسې لکه د خوب لیده له یوه او بله، هغه له بوډاګانو او پوهو خلکو څخه اوریدې چې زیاتې تکراري نه وې، ځکه څوک چې په دې خبرو پوهیدل هغوی لکه ناپوهان ډیرنه ګړیدل... ترهغوچې زه په ښه او بد پوهیدمه او د راز او رمز پوښتنې مې ځوابولې بیاهغوی نه وو، د هغوی سرونه زما د زړه پر تیږو باندې ایښي وو، او ارواوې یې د دوی په وینا زما له اولکې وتلې او داسې ځای ته رسیدلې وې چې ماته یې هم پته نه لګیده او نه پوهیدم چې چیرې اوځنګه...؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

زياترو خو به يي د ژوند حواله په داسي چا ورکوله چي د هغه ځانګړني او ولولي، وږمي او نغمي، ماسي اوحماسي او کيسي به يو څه زما د پلار هغو ته ورته کيدي، خو دا چي ما هم د هغه کيسي اوريدلي وې، نه مي شواى کولاى چي يا خپلو سوالو ته ځوابونه پيداکړم او يا د دوى رښتيا او دروغ تعبيرکړاى شم. جالبه خو لا داوه چي په دوى کي داسي بلاګيان هم وو چي پرهيڅ هم بند نه وو، داسي رښتيا او دروغ به يي سره ګډول چي د عطار په قطي کي هم نه وو او نه چا ليدلي اوريدلي وو.

زه تر دوى ډيره مشره يم، ما ته د دوى دهر يوه په سلګونه نسله معلوم دي، زه په دې پوهيږم چي دوى د کومو ښو او کومو بدو پلرونو او ميندو زامن او لوڼه دي، هغوى چي دوى ته يي کسي ور رسيدلي وې هغوى ما په خپله ليدلي وو، ماته د هغوى ټولي ناخوالي او کمى داسي معلومي وې لکه پرونى کتني او پرونى ويني، ماته هغوى ګردسره چي دوى يي په درنښت يادوي او يا لکه ليوان اوځناور د هغوى د ناويلو او ناليدلو لپاره په منډو او تړړو دي او پرنومونو يي ناروا وې کوي،هرچاته داسي ښيي چي د هغوى رښتيني ذمه وار دي او بس داسي معلوم دي لکه لمر، خو دوى نه پوهيږي چي هغوى څوک وو؟ څه يي کول؟ څه يي په زړه کي وو او څه يي چي وس ورسيد ويي نه کړل، دا ټولي خبرې ماته معلومي وې، دوى چي څه غلاوې او زناوې، وژني، وطن پلورني او نورې شيطاني هڅي وکړې هغه ټولي له ما پرته بله چا نه وليدې او نه يي په اصلي رمز باندې خبرشول، هغوى چي صداقت او رښتياوې، خدمتونه او نورې هڅي يي کړې وې هغه هم ټولي ماته معلومي وې، هغه څه چي دوى يي تمدن بولي دا ماته داسي دى لکه بګانى خبره، هغه څه چي دوى پرې وياړي دا په تورې تيارې کي هغه رڼا او روښانه ټکى دى چي ما د هغو په ترڅ کي د دوى د پلرونو تول کره وره په خپلو سترګو وليدل. يوازې يو څو تنه وو چي د ځان په فکرکي نه وو، د انسان په فکرکي وو، هغوى ته يي پيغامبران ويل، هغوى دوى تر اوسه هم نه پيژني او نه يي يادوي، هغه هم زه يم چي پيژنم يي، خو د دوى يو شمير هم لکه د دوى په شان د تيارو ديوالونه وو چي په تورتم کي راغلل او په تورتم کي ولاړل، له هغوى هم يوازې هغه څه پاتي شول چي نه يي ځان پرې نيکمرغه کړ او نه نور...

هو، ما يوه اوږده لار او يوه اوږده کيسه وهلى او ليدلي ده، زما نوم ( م خ ک ه ) دى ( ک ى س ه ) زما سکنۍ خور ده، مور د يوې مور او يوه پلار سکنۍ لوراني يو، مور پرهغو ډيرګراني وو، کله چي مرګى راغى زمور دواړو خويندو پرسرو يي لاسونه کيښودل او زما پر مور او پلار چي هغوى هم عادي څوک نه وو يوازې يو او ناڅاپي غږ وکړ:

- دوى درنه واخلم اوکه تاسي خپل ځانونه راسپارئ؟

مور مي زما او پلارمي د خور له سره د هغه تور لاسونه پريوه خوا او پرخپلو اوچتو سرونو کيښودل...

او پلار مي مورته په مينه وکتل، د وروستي ځل لپاره ورته موسکى شو:

- دوى بايد ژوندئ وي، په دې چي زمور يادون او هڅون ته سينه اوکيسه شي...

هو، زما نوم (م خ ک ه ) دى، او کيسه زما سکنۍ خور ده، مور د يوې اوږدې خو سپيني لارې ترنامالوم سرمنزله د رښتينو يادونو او رازونو ملګري يو...

ستاسي زړه دى چي مور ترخپلي پولي پورې بدرګه کړئ که نه؟

پاى

اجميرشريف

د ۲۰۰۳ کال دسامبر



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له مور سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ